د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

تحلیل هفته

ګڼه: 423

(25 لیندۍ – 1 مرغومی 1402 هـ ش)

# پر اسلامي امارت د بندیزونو دوام: حقوقي او سیاسي ارزونه



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- پر اسلامي امارت د بندیزونو دوام: حقوقي او سیاسي ارزونه ............................................ 3
- د بندیزونو ډولونه ................................................................................ 4
- پر اسلامي امارت د امریکا متحده ایالاتو د بندیزونو لاملونه ............................................ 6
- پر اسلامي امارت د امریکا متحده ایالاتو د بندیزونو اغېزې............................................ 8
- پایله ................................................................................ 9
- وړاندیزونه ................................................................................ 10
- سرچینې ................................................................................ 10


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# پر اسلامي امارت د بندیزونو دوام: حقوقي او سیاسي ارزونه

## سريزه

نړیوال بندیزونه د دولتونو او یا هم سازمانونو سیاسي او اقتصادي پرېکړې دي چې پر یو هېواد، ډلې او یا هم افرادو باندې له دې امله لګېږي تر څو له لارې يې نړیوالې سولې ته ګواښ لمنځه یوړل شي، د نړیوالو حقوقو د نقض مخنیوی وشي او د هېوادونو ملي ګټې خوندي شي.

امریکا متحده ایالاتو له ۱۹۹۹ز. کال راهیسې تراوسه پورې پر اسلامي امارت بېلابېل بندیزونه لګولي دي. په ۱۹۹۰یمو کالونو کې بندیزونه له دې امله وو چې اسلامي امارت د اسامه بن لادن او د القاعدې شبکې نورو غړو ته پناه ورکړې وه، له ۲۰۰۱ز. کال څخه تر ۲۰۲۱ز. کال پورې پر طالبانو له دې امله بندیزونه وو چې دوی د امریکا متحده ایالاتو له لوري د تروریستي (د دوی په اصطلاح) ډلو په لست کې شامل وو او له ۲۰۲۱ز. کال راهیسې تراوسه پورې بندیزونه له دې امله دي چې اسلامي امارت په زوره یو دیموکراتیک حکومت نسکور کړی او پرځای يې داسې حکومت رامنځته کړی چې حقوقي او ولسي مشروعیت نه لري.[1]

د دې بندیزونو په لړ کې امریکا متحده ایالاتو لومړنی اقدام د افغانستان د ۹,۴ میلیارده ډالرو د شتمنۍ کنګل کول وو، له بلې خوا د افغانستان په بانکي سیستم او ځینې نورو اقتصادي برخو د بندیزونه لګول شامل وو، خو د تېر په څېر دا ځل پر اسلامي امارت د بندیزونو لګول یو څه متفاوت او له ننګونو ډک وو، ځکه اسلامي امارت دا ځل حکومتي چوکاټ پرمخ وړي او هر ډول نړیوال بندیز به مستقیماً پر ولس اغېزه کوي او همداسې وشول په اوایلو کې د سختو بندیزونو له امله په افغانستان کې لوی اقتصادي ناورین رامنځته شو، چې نړیوالې ټولنې او په ځانګړې ډول چین او روسیې د دې ناورین مسؤله امریکا متحده ایالات وګڼل او له دې کار څخه يې یو څه تبلیغاتي ګټه هم واخیسته چې له امله يې امریکا متحده ایالات اړ شو چې په بندیزونو کې نرمښت راولي او په لومړني اقدام کې يې د بشري مرستو د رسولو په برخه کې اسانتیاوې رامنځته کړې او په دویم اقدام کې يې پر بانکي سیستم او سوداګرۍ ځینې بندیزونه لرې کړل، مني ګرام او ویسترین یونین ته يې د فعالیت اجازه ورکړه او ځینې امریکايي قراردادیانو ته يې هم اجازه ورکړه تر څو په افغانستان کې د بشري مرستو په رسول کې همکاري وکړي.

د اسلامي امارت پر وړاندې د امریکا متحده ایالاتو اوسنۍ پالیسي داده چې د رسمیت پېژندنې او بندیزونو د لرې کولو په بدل کې د بشري حقوقو د تأمین، د ټولشموله حکومت د جوړېدو، د نشه يي توکو د مخنیوي او د ځینو امنیتي اندېښنو د رفع کولو غوښتنه کوي او له همدې امله ځینې وخت د بشري حقوقو د نقض له امله د اسلامي امارت پر ځینو مشرانو انفرادي بندیزونه لګوي چې تازه يې د افغانستان د علومو اکاډمۍ پر

رئيس شيخ فريد الدين محمود او د آمر باالمعروف او نهی عن المنکر وزارت پر وزير شيخ خالد حنفي د بشري حقوقو او په ځانګړي ډول له شپږم ټولګي پورته د نجونو د تعليم د مخالفت له امله بنديزونه لګولي دي.[2]

په دې ليکنه کې به له يوې خوا پر اسلامي امارت د بنديزونو حقوقي ارزونه وکړو او له بل پلوه به له سياسي لحاظه دا وڅېړو چې امريکا متحده ايالات د کومو دلايلو او انګېزو پر بنسټ پر اسلامي امارت بنديزونه لګولي او ايا دغو بنديزونو پر اسلامي امارت کومه اغيزه کړې ده او که نه؟

## د بنديزونو ډولونه

بنديزونه له دوه اړخونو طبقه بندي کېږي:

### لومړی: د لګېدونکي اړخونو له حيثه

له دې اړخه بنديزونه په درېو برخو ويشل کېږي:

**۱- پر دولتونو بنديزونه:** دولتونه د ملګرو ملتونو غړي ګڼل کېږي او د ملګرو ملتونو ټول غړي هېوادونه د دغه سازمان د منشور په منلو او رعايت مکلف دي. د ملګرو ملتونو منشور د بين المللي حقوقو مهمه سرچينه ده او کله چې يو دولت دغه حقوق نقض کړي او يا هم  ملګرو ملتونو منشور مخالفت وکړي او يا هم په نړيواله سطحه خپلې وجيبې اجراء نه کړي، نو د ملګرو ملتونو د منشور د اووم فصل پر بنسټ امنيت شورا کولای شي چې په دغه دولت بنديزونه ولګوي. البته يادونه بايد وکړو چې ځينې وخت يو دولت په يوازې ځان هم کولای شي د خپلو ملي ګټو د تأمين په موخه پر يو بل دولت بنديزونه ولګوي، نو څکه ويلای شو چې نړيوال سازمانونه او دولتونه کولای شي چې په نورو دولتونو بنديزونه ولګوي.

**۲- پر ډلو بنديزونه:** په نړۍ کې ځينې داسې ډلې دي چې هغه ملګرو ملتونو په تروريستي ډلو لست کې شاملې کړي دي. لومړی دا چې د ملګرو ملتونو امنيت شورا دغه ډلې هر اړخيزې څېړي او له څېړلو او اسنادو وروسته  که ثابته شي چې دا نړيوالې سولې ته ګواښ دی، نو بيا يې تروريستي ډلو لست ته غورځوي او بيا پرې بنديزونه لګوي چې دې ډول بنديزونو ته پر ډلو د بنديزونو لګول ويل کېږي.

**۳- انفرادي بنديزونه يا پر افرادو بنديزونه:** دريېم ډول بنديزونه پر مشخصو افرادو د بنديزونو لګول دي. د ملګرو ملتونو د امنيت شورا کولای شي پر ځينو سياسي رهبرانو او لويو سوداګرو نړيوالې سولې ته د ګواښ، د بشري حقوقو د نقض، فساد، تروريستي فعاليتونو د ترسره کېدو او د وسلو د خپراوي له امله بنديزونه ولګوي او همدارنګه يو دولت په يوازې ځان هم کولای شي چې په مشخص افرادو د خپلو ملي ګټو د خوندي کولو له امله بنديزونه ولګوي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

دلته د انفرادي بنديزونو ځينې بېلګې وړاندې کوو چې د ملګرو ملتونو، اروپايي اتحاديې او امريکا متحده ايالاتو له لوري د نړيوالو بنديزونو سره مخامخ دي:

**الف- کيم جېنګ اون:** دا د شمالي کوريا مشر دی چې د کيمياوي وسلو د پراختيا او بشري حقوقو د نقض له امله پرې ملګرو ملتونو بنديزونه لګولي دي.

**ب- ولاديمير پوټين:** دا د روسيې ولسمشر دی چې د اروپايي اتحاديې له لوري پر ۲۰۱۴ز. کال کې د کريميا د نيولو له امله بنديزونه ولګېدل او د اوکراين د اوسنۍ جګړې له امله هم پرې بنديزونه لګېدلي دي.

**ج- خامنه يي:** دا د ايران مذهبي مشر دی چې د امريکا متحده ايالاتو له لوري د اتومي وسلې د جوړولو او بشري حقوقو د نقض له امله تر بنديزونو لاندې دی.

**د- بشار الاسد:** د سوريې مشر دی او د اروپايي اتحاديې او امريکا متحده ايالاتو له لوري د بشري حقوقو د نقض له امله تر بنديزونو لاندې دی او په ده تور دی چې د سوريې په داخلي جګړو کې يې بشري حقوق نقض کړي او په زرګونو خلک يې وژلي دي.[3]

**هـ- مير رحمان رحماني او زوی يې:** دا د افغانستان تېر شل کلن جمهوريت کې د پارلمان وکيلان وو چې تېره اونۍ پرې امريکا متحده ايالاتو د فساد له امله بنديزونه ولګول.

**و- د اسلامي امارت ځينې مشران:** د اسلامي امارت ځينې مشران په ځانګړې ډول په وروستيو کې د علومو اکاډمي رئيس شيخ فريد الدين محمود او د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزارت وزير شيخ خالد حنفي د امريکا متحده ايالاتو له لوري د بشري حقوقو د نقض په ځانګړې ډول د نجونو د تعليم د مخنيوي له امله تر بنديزونو لاندې دي.

له پورتني بحث دا جوتېږي چې د بنديزونو لګول د بين المللي حقوقو يو مهم بحث دی، نړيوال او سيمه ييز سازمانونه او دولتونه کولای شي چې پر ځينو نورو دولتونو بنديزونه ولګوي او دا کوم حقوقي ممانعت نه لري، خو د يوې خبرې يادونه بايد وکړو چې د بين المللي حقوقو الزامي جنبه ضعيفه ده او تطبيق يې يوازې اخلاقي جنبه لري. په دې وروستيو کې موږ وليدل چې اسراييلو او حماس ترمنځ د جګړې د ودرېدو په اړه د ملګرو ملتونو په عمومي اسمبله کې مطلق اکثريت دولتونو چې تعداد يې له ۱۵۰ اوښته د اوربند غوښتنه وکړه او يوازې ۱۰ دولتونو د اوربند مخالفت وکړ، خو بيا هم تر اوسه پورې اوربند نه دی شوی او جنګ نه دی درېدلی، نو ځکه ويلای شو چې لوی قدرتونه هغه مهال د بين المللي حقوقو د تطبيق خبره کوي چې د دوی په ګټه وي، خو کله يې چې په تطبيق کې زيان وي، بيا د بين المللي حقوقو پروا نه کوي او د ټولو اصولو خلاف يو عمل ترسره کوي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**دويم: د موضوع له اړخه د بنديزونو ډلبندي**

له دې اړخه هم بنديزونه په درېو برخو ويشل کېږي:

**۱- اقتصادي بنديزونه:** د يو هېواد يا نړيوال سازمان له لوري پر يو بل هېواد يا افرادو د اقتصادي محدوديتونو لګولو ته اقتصادي بنديزونه ويل کېږي. اقتصادي محدوديتونه بېلابېل ډولونه لري لکه د يو هيواد پر وګړو، سياسيونو او اقتصادي شرکتونو پر مشرانو د سفر بنديزونه، يو هېواد ته د بهرنۍ پانګونې مخنيوی او محدوديتونه، د سوداګريزو توکو پر لېږد او رالېږد محدوديتونه، د ګمرکي تعرفو زياتوالی، د اقتصادي مرستو بندول يا محدودول او په بهرنيو بانکونو کې د پانګې کنګلول.[4]

**۲- ډيپلوماتيک بنديزونه:** هغه بنديزونه دي چې يو نړيوال يا سيمه ييز سازمان او يا هم يو دولت يې پر يو بل دولت د سفارتونو د بندولو او يا هم د ډيپلوماتانو او د حکومت د لوړو پوړو چارواکو پر سفر د بنديز له لارې لګوي. د اسلامي امارت پر ځينو مشرانو چې ځينې وزيران هم په کې شامل دي د امريکا متحده ايالاتو له لوري د سفر د بنديز سره مخامخ دي چې دا ډول بنديزونه په ډيپلوماتيکو بنديزونو کې راځي.

**۳- نظامي بنديزونه:** په دې ډول بنديزونو کې پر يو دولت د وسلو د توليد، خپراوي، استعمال او هم پېرلو او پلورلو بنديز لګېږي، لکه په شمالي کوريا او ايران باندې د ملګرو ملتونو او امريکا متحده ايالاتو بنديزونه.

## پر اسلامي امارت د امريکا متحده ايالاتو د بنديزونو لاملونه

بنديزونه پر يو هېواد د فشار راوړلو، له يو کار څخه منع کولو او يا جزا ورکولو په موخه لګول کېږي. بنديزونه د بهرني سياست د پلي کولو يوه وسيله ده. کله چې د مذاکراتو او ډيپلوماسۍ له لارې ملي ګټې لاسته رانشي، نو له نظامي جګړې مخکې بنديزونه د ملي ګټو د لاسته راوړلو او د بهرني سياست د پلي کولو د يوې وسيلې په توګه کارېږي. امريکا متحده ايالات هغه هېواد دی چې تر ټولو ډېر په نړيواله کچه د خپلو موخو د لاسته راوړلو لپاره له دې وسيلې ګټه اخلي او پر اسلامي امارت کېدای شي بنديزونه د لاندې لاملونو پر بنسټ لګوي:

**۱- د ډيموکراتيکو ارزښتونو د خوندي کولو په موخه بنديزونه:** له دويمې نړيوالې جګړې وروسته امريکا متحده ايالات د ډيموکراتيکو ارزښتونو د خوندي کولو او نړۍ ډيموکراتيک کولو پروسه په لاره واچوله چې د سړې جګړې او شوروي اتحاد له ماتې وروسته دا پروسه نوره هم چټکه شوه او په نړۍ کې هر هېواد به چې د ډيموکراتيکو ارزښتونو خلاف نظام رامنځته کاوه، نو امريکا متحده ايالاتو به پرې بنديزونه لګول د بېلګې په ډول: کله چې په ۱۹۹۹ ز. کال کې جنرال پرويز مشرف پر نوازشريف کودتاه وکړه او يو غيرډيموکراتيک نظام يعنې پوځي حکومت يې اعلان کړ، نو امريکا متحده ايالاتو پرې بنديزونه ولګول.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

پر اسلامي امارت هم د بندیزونو دلګولو یو لامل دا دی چې اسلامي امارت یو ډیموکراتیک حکومت نسکور کړ او تراوسه یې بل ډیموکراتیک حکومت نه دی رامنځته کړی، نو امریکا متحده ایالات غواړي د بندیزونو له لارې اسلامي امارت دې ته قانع کړي چې د ټاکنو له لارې یو ډیموکراتیک حکومت رامنځته کړي، خو موږ په دې باور یو چې امریکا متحده ایالات ډیموکراسي د خپلو ملي ګټو د لاسته راوړلو د یوې وسیلې په توګه کاروي او په نړۍ کې داسې بېلګې هم لرو چې کله یو ډیموکراتیک حکومت رامنځته شوی او د امریکا متحده ایالاتو په کې ګټه نه وي، بیا یې د هماغې د نسکورولو هڅه کړې ده لکه په مصر کې محمد مرسي د ټاکنو او ډیموکراتیکې پروسې له لارې واک ته ورسېده، خو په یو کال کې دننه د امریکایانو په هڅو چپه شو او پرځای یې د کودتاه له لارې یعنې د غیر ډیموکراتیکې پروسې له لارې راغلی عبدالفتاح السیسي حکومت په رسمیت وپېژانده او همکارۍ یې ورسې پیل کړې.

همدارنګه اکثره عربي هېوادونو کې ډیموکراتیک نظامونه نشته، خو د امریکایانو نږدې اړیکې ورسره موجودې دي او بندیزونه یې پرې نه دي لګولي، نو ځکه وایو چې د دیموکراتیکو ارزښتونو په موخه د بندیزونو لګولو دلیل یوازې د امریکایانو یوه بهانه ده.

**۲- د وسله والو ډلو سره د مبارزې په موخه بندیزونه:** همدارنګه امریکا متحده ایالات د ناقانونه وسله والو ډلو سره د مبارزې په موخه هم له بندیزونو ګټه اخلي د بېلګې په ډول: امریکا متحده ایالاتو او ملګرو ملتونو امنیت شورا په ګډه په ۱۹۹۲ز. کال کې پر لیبیا له دې امله اقتصادي بندیزونه ولګول تر څو د لیبیا حکومت تر فشار لاندې راولي او هغه دوه کسان چې په ۱۹۸۸ز. کال د پان امیرکن الوتکې په الوزولو تورن وو د محاکمې لپاره یې امریکا متحده ایالاتو ته وسپاري. لیبیا په یاده پېښه کې د لاس لرلو مسؤلیت ومانه او له یوې خوا یې تورن کسان امریکا متحده ایالاتو ته وسپارل او له بلې خوا یې پان امیرکن هوایي شرکت ته ۲,۷ میلیارده ډالر تاوان ورکړ.[5]

امریکا متحده ایالات د بندیزونو یو دلیل دا بیانوي چې اسلامي امارت د القاعدې او نورو وسله والو ډلو سره اړیکې لري او دوی غواړي د بندیزونو له لارې پر اسلامي امارت فشار راوړي تر څو له یوې خوا له دغو ډلو سره اړیکې پرې کړي او له بلې خوا د هغوی پر خلاف مبارزه وکړي، خو اسلامي امارت هر وخت دا تورونه رد کړي دي او ویلي یې دي چې دوی له وسله والو ډلو سره اړیکې نه لري او خاوره به یې د هېڅ هېواد پرخلاف هم استعمال نشي.

**۳- د بشري حقوقو د نقض له امله بندیزونه:** په ۲۰۲۳ز. کال د دسمبر پر لسمه نېټه د بشر حقوقو د نړیوالې ورځې او د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې د ۷۵یمې کالیزې په مناسبت امریکا متحده ایالاتو د اسلامي امارت پر دوه مشرانو د علومو اکاډمۍ پر رئیس شیخ فرید الدین محمود او د امربالمعروف وزیر شیخ خالد حنفي د بشري حقوقو د نقض له امله بندیزونه ولګول.[6] د امریکا متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت په



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

یوه اعلامیه کې ویلي چې دوی دا کار له دې امله کړی چې دا دوه طالب مشران له شپږم ټولګي پورته د نجونو د تعلیم په مخنیوي کې لاس لري او له دې مخکې یې هم پر اسلامي امارت له دې امله بندیزونه لګولي وو چې دوی د نجونو دکار مخنیوی کوي او دا یو بشري حق دی چې دوی نقض کړی.

د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد د امریکا متحده ایالاتو دا عمل غندلی او ویلي یې دي چې امریکا متحده ایالات تر ټولو زیات د بشري حقوقو نقض کوونکې ده او د اسراییلو او فلسطین په روانه جګړه کې چې نږدې شل زره فلسطیني وګړي په کې شهیدان شوي او له دېرش زرو زیات ټپیان دي او اکثره یې ماشومان او ښځې دي، دوی د اسراییلو او د جنګ حمایت کوي چې دا خپله په لوړه کچه د بشري حقوق د نقض کوونکو ملاتړ او خپله د بشري حقوق نقض دی. مجاهد زیاته کړه چې بندیزونه او فشارونه د دې پر ځای چې ستونزې حل کړي، نورې ستونزې هم زېږوي او امریکا متحده ایالات دې د فشار ناکامه سیاست څخه لاس واخلي.

**۴- د فشار د یوې وسیلې په توګه بندیزونه:** امریکا متحده ایالات پر اسلامي امارت د بندیزونو له لارې غواړي چې پر دوی فشار راوړي او ځینې امنیتي او سیاسي غوښتنې چې د امریکا متحده ایالاتو ملي ګټې یې غوښتنه کوي پر اسلامي امارت ومني چې په امنیتي برخه کې د اډو ترلاسه کولو قضیه ډېره مهمه ده چې په دې وروستیو کې ټرمپ هم دا خبره کړې چې که زه جمهور رئیس شوم، نو د بګرام هوايي اډه به ترلاسه کوم له دې معلومېږي چې د امریکا متحده ایالاتو یوه غوښتنه د اسلامي امارت نه د اډو ترلاسه کول دي چې اسلامي امارت ورته حاضر نه دی چې له همدې امله له بندیزونو د فشار د وسیلې په توګه ګټه اخلي تر څو پر اسلامي امارت خپلې ځینې غوښتنې ومني.

## پر اسلامي امارت د امریکا متحده ایالاتو د بندیزونو اغېزې

پوښتنه داده چې ایا دا بندیزونه او فشارونه به کار ورکړي او که نه؟ د اسلامي امارت له واکمنۍ نږدې دوه نیم کاله پوره کېږي او په دې ټوله دوره کې اسلامي امارت د امریکا متحده ایالاتو د بندیزونو لاندې و، خو داسې معلومېږي چې امریکا متحده ایالاتو تراوسه له دې بندیزونو څه نه دي ترلاسه کړي او دا بندیزونه بې اغیزې دي چې دا څو دلایل لري:

۱- اسلامي امارت اوس یوازې یوه ډله نه ده بلکې د افغانستان حکومت یې په لاس کې دی او د افغانستان پر ټوله خاوره واکمن دی او پر اسلامي امارت هر ډول بندیز مستقیماً پر ولس اغیزه کوي او له همدې امله هغه سختو بندیزونو کې چې د اسلامي امارت په لومړنیو کالونو کې وو، اوس نرمښت راغلی او له همدې امله هم پر اسلامي امارت بندیزونه یو څه بې اغیزې شوي دي.

۲- دویم دلیل دا دی چې اسلامي امارت یوه اسلامي ایډیالوژي تعقیبوي او هره هغه موضوع چې اسلامي امارت ته د دغه ایډیالوژۍ خلاف ښکاري د هغې په اړه که هر څومره سخت بندیزونه هم ولګېږي پر اسلامي



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

امارت اغېزه نه کوي، ځکه اسلامي امارت د اسلام خلاف هېڅا ته هم نه تسلیمیږي او له همدې امله په کابل کې د علماوو لویې غونډې ته د اسلامي امارت امیر المؤمنین وویل چې که «اېټم بم هم راباندې استعمال شي د چا ناروا خبرې به ونه منو.» همدا لامل دی چې د فارن پالیسی د ویبپاڼې موندنې ښایي چې د امریکا متحده ایالاتو بندیزونو ۱۳ سلنه اغیزې لرلې دي.[7] چې دا اغېزې په نشت حساب دي.

۳- اسلامي امارت سره د امریکامتحده ایالاتو په مقابل کې د چین، روسیې او ایران بدیلونه موجود دي او له دې امله هم د امریکا متحده ایالاتو بندیزونه ډېر اغېزمن نه دي.

امریکایي ډیپلومات ریچرډ هاس لیکلي * چې ځینې وخت بندیزونه کار نه ورکوي او یو هېواد نه توانېږي چې له لارې یې ملي ګټې لاسته راوړي په ځانګړي ډول هغه مهال کله چې بندیزونه یو اړخیز** وي، ځکه په یو اړخیزو بندیزونو کې یو هېواد کولای شي چې نورو هېوادونو ته مراجعه وکړي او د اقتصادي بندیزونو له امله رسېدلې خساره د نورو هېوادونو سره د اړیکو له لارې جبران کړي. د بېلګې په ډول په ۱۹۹۳ز. کال کې امریکا متحده ایالاتو پر پاکستان له دې امله اقتصادي بندیزونه ولګول چې له چین څخه یې M-11 مزایل وپیرل، خو دا اقتصادي بندیزونه یو اړخیز و یعنې یوازې د امریکا متحده ایالاتو له خوا، نو پاکستان د دغو اقتصادي بندیزونو د اغیزو د مخنیوي په موخه له چین څخه اقتصادي مرسته ترلاسه کوله.

اسلامي امارت هم له خپلې واکمنۍ یو کال وروسته له روسیې سره د نفتو او غنمو تړون لاسلیک کړ او له چین سره یې هم د انرژۍ او نورو پروژو برخه کې تړونونه لاسلیک کړي چې له امله د امریکا متحده ایالاتو بندیزونه بې اغېزې شوي دي.[8]

۴- همدارنګه د بندیزونو د نه اغیز بل لامل د سیاسي نظام ډول دی. په کومو هېوادونو کې چې غیرډیموکراټیک او له نظامي پلوه قوي حکومتونه حاکم وي پر دغو هېوادونو هم بندیزونه ډېر اغېز نه لري، د بېلګې په ډول د صدام حسین د حکومت پرمهال پر عراق د امریکا متحده ایالاتو اقتصادي بندیزونه چې پر صدام حسین یې هېڅ اغېز نه کاوه[9] او په اوسمهال په افغانستان کې هم اسلامي امارت واکمن دی چې له پوځي اړخه قوي او غیرډیموکراټیک حکومت په کې حاکم دی، نو له دې اړخه هم د امریکا متحده ایالاتو بندیزونه ډېره اغېزه نه کوي.

## پایله

له حقوقي پلوه د بندیزونو لګول د ملګرو ملتونو د منشور د اووم فصل په رڼا کې جواز لري او دا بندیزونه پر هغه اشخاصو او دولتونو لګېږي چې د بشري حقوقو ناقضین وي، په زوره یې حکومت نیولی وي، نړیوالې سولې ته ګواښ وي، په لوړه کچه پر فساد اخته وي او یا هم د وسلو د خپرولو په برخه کې لاس ولري.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

دویمه خبره دا چې یو دولت هم په یوازې ځان کولای شي چې د ملي ګټو د ترلاسه کولو په موخو پر ځینو دولتونو او یا هم انفرادي  اشخاصو بندیزونه ولګوي او په دې برخه کې امریکا متحده ایالات تر نورو مخکې ده چې موږ یې بېلګې هم په دې تحلیل کې راوړي دي. د اسلامي امارت پر مشرانو وروستي بندیزونه د امریکا متحده ایالاتو له لوري دي او امریکا متحده ایالات غواړي چې له دې لارې د اسلامي امارت پر حکومت فشار راوړي تر څو د امریکا متحده ایالاتو ځینو غوښتنو ته غاړه کېږدي او دا غوښتنې تر ډېره د بشري حقوقو، ټولشموله حکومت او ځینې امنیتي قضایاوو په اړه دي چې امریکا متحده ایالات یې د خپلو ملي  ګټو مهم اړخونه ګڼي.

بله موضوع دا ده چې د امریکا متحده ایالاتو بندیزونه پر اسلامي امارت ډېره اغېزه نه کوي، ځکه له یوې خوا اسلامي امارت سره د امریکا متحده ایالاتو په مقابل کې د روسیې، چین او ایران بدیلونه موجود دي چې د هغوی له لارې خپلې اقتصادي او ځینې نورې ستونزې حلوي او له بل لورې په افغانستان کې یو ډیموکراتیک حکومت هم نشته چې امریکا متحده ایالات یو حکومت تر فشار لاندې راولي او که د دوی د خوښې کار ونکړي، نو راتلونکو ټاکنو کې د حکومت په بدلېدو یې وګواښي.

## وړاندیزونه

۱- اسلامي  امارت ته وړاندیز  کېږي چې د بشري حقوقو په برخه کې دې له شپږم ټولګي پورته د نجونو د تعلیم قضیه دې ژر کېدای شي  حل کړي او دا له دې امله نه چې د امریکا متحده ایالاتو له بندیزونو خلاص شي بلکې دا خپل یو ولسي اړتیا او د ملت د پرمختګ اساسي لامل دی او له دې لارې د نړیوالې ټولنې  سره د تعامل لپاره یو دروازه هم خلاصېدای شي.

۲- امریکا متحده ایالات دې هم د بندیزونو او زور لاره پرېږدي ځکه له یوې خوا پر اسلامي امارت اغېزه نه کوي او له بلې خوا د اړیکو د رغولو لپاره دا یوه ښه حللاره نه ده، بلکې تعامل او مذاکرات د ستونزو د حل ښه لاره ده او امریکا متحده ایالات باید ترې ګټه پورته کړي.

## سرچینې

[1]https://www.cnas.org/publications/reports/sanctions-by-the-numbers-afghanistan
[2]https://www.voanews.com/amp/7390993.html#amp_tf=From%20%251%24s&aoh=17023913616692&referrer=https%3A%2F%2Fwww.google.com
[3] https://www.sanctions.io/blog/how-do-sanctions-on-individuals-work

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

[4] Jonathan Masters, What Are Economic Sanctions?, Council on Foreign Relations, Aug 12 2019, Access link: https://www.cfr.org/backgrounder/what-are-economic-sanctions

[5] Alex Mintz and Karl DeRouen, Understanding Foreign Policy Decision Making, Op. Cit., P. 137.

[6] https://www.brecorder.com/news/40277753

[7] Wazhma Sadat, Why Sanctions Against the Taliban Aren't Working, Foreign Policy Magazine, June 2023, Access link: https://foreignpolicy.com/2023/06/29/taliban-sanctions-act-us-afghanistan/

[*] Richard Haass

[**] Unilateral sanctions

[8] Ibid.

[9] Alex Mintz and Karl DeRouen, Understanding Foreign Policy Decision Making, Op. Cit., P. 137.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سایت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +۹۳۷۸۰٦۱۸۰۰۰ wattapp: 0780618000